مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۶/۰۵/۰۵

# ځوک یو اړخیز قضاوت کوي؟

له هغي ورځي چي طالبانو د نجونو د تعلیم او په وروسته کي د عصري تعلیم مخه نیولی ده؛ په افتخار سره وایم چي که مي نور هیڅ په وس نه کیږي نو د خپلو اولسونو یا لږترلږه د سواد لرونکو او تعلیم یافته طبقي په صف او دفاع کي اود هغوی د غلیم طالباني رژیم پر ضد درېدلی یم او په نثر او نظم مي د هغوی له غندني څخه لاس نه دی اخیستی.

ښاغلی ډاکټر صاحب عثمان تره کی. لومړی باید د شاعر د مسخره کولو او نازکو احساساتو او شاعرانه طبعی له ذکرولو څخه لاس واخلی. دا ستاسي سره نه ښایی. شکر دی د عالي تحصیلاتو څښتن یاست او د پوهنتون د استادی سابقه لری. دا خبري د ډېرو کوچنیو خلکو دي او ځان دومره مه وړوکی کوی.

محتسب یا امربالعروف د طالبانو په کابینه اړه لري. زه د دې مقام افتخار نه سم لرلای. که په غربی نړۍ کي دا مقام یا لقب چاته ورکول کیږي نو هغه باید د طالبانو مدافعینو ته ورکړه سي؛ چي ښایی تاسي یې لیاقت ولری.

تاسي په بشپړه بې انصافي د اعلیحضرت محمدظاهرشاه په وخت او وروسته د شهید داوود خان په زمانه کي د پښتو نستان د خلکو له داعیې څخه د وخت د حکومتونو د دریغ سپکاوی کړی او یوازي د څو مفت خورو نومونه مو اخیستي دي چي د افغانستان د حکومتونو پر سترخوانونو، د مچانو په څېر، بوښېدل.

خبره په دومره عادي توګه نه فیصله کیږي او ستاسي سره نه ښایی چي د دومره عالي تحصیلاتو سره سره هم د خپل سترګو لیدلي تاریخ په برخه کي دومره بې خبري وښیاست.

که زه اوس بیرته خپلي خبري له سره لیکم نو د لوستونکو د وخت د ضایع کېدلو سبب کیږي. زه د ډېري مطالعي ادعا نه کوم. مطالعه خو ستاسي په څېر عالمانو کار دی. ما چنداني تحصیل هم نه دی کړی او ستاسي په اصطلاح یو عادي شاعر سړی یم. خو ستاسي دغه راز قضاوت ستاسي د بې خبری شاهدي ورکوي. زه تاسی ته بلنه درکوم چي د پښتونستان د تحریک د ملاتړ ترڅنګ د بلوچستان له تحریک څخه د ظاهرشاه د سلطنت د ملاتړ په برخه کي دغه لاندي کتاب ولولی او زه یقین لرم چي په ډېرو شیانو او رازونو به خبر سی. In Afghanistan’s Shadow:
Baluch Nationalism and Soviet Temptation
By Selig Harrison

زه ستاسي څخه دومره پوښتنه کوم چي تاسي په کابل کي د امید پر روغتون باندي د پاکستان د بمباری او د څه باندی ۱۰۰۰ تنو د شهید کېدلو او ټپي کېدلوشاهدان نه واست؟ تاسي تازه د کنړ د اسعدآباد په ښار کي د سید جمال الدین افغان پر پوهنتون باندي د پاکستان د توغندیو د حملي او د محصلینو د شهید کېدلو او ټپي کېدلو شاهدان نه واست.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

زما پوښتنه دا ده چي طالبانو د دومره خونړيو حملو او ځړګندو تېريو په مقابل کي څه وکړل؟ آيا هغوی دا حملې وغندلې؟ زه په کابل کي د امید پر روغتون باندي د پاکستان د هوايي برید او د سلهاوو ناروغانو د شهادت څخه وروسته، د طالبانو د داخله وزیر سراج الدین حقاني د وینا شاهد وم. زه يقين لرم چي تاسي به هم اورېدلي وي. ښاغلي حقاني نه يوازي د پاکستان هغه حمله ونه غندله بلکه ويې ويل چي طالبان له پاکستان سره انتقامي جذبه نه پالي او له پاکستان سره د اُخوت ( وروروګلوی) اړيکي نه خرابوي.

پاکستان تقريباً دوې مياشتي د نورستان څلور يا پنځه اولسوالی محاصره کړي وې او د هغو اولسواليو خلک د لوږي له مرګ سره مخامخ ول. وروسته د پاکستان مقاماتو د نورستان له قومي مشرانو سره جرګه وکړه. له هغوی سره يې موافقه وکړه او له هغوی څخه يې لاسليکونه واخيستل. دا د يوه مستقل هيواد پر ارضي تماميت باندي ځرګند تېری نه بولی؟ زه خو شاعر سړی یم. په دې حقوقي خبرو مي سر هم نه خلاصيږي. خو تاسي د يوه حقوق پوه او عالم په حيث څه پکښي واياست؟ زه نه وايم چي طالبانو دي پر پاکستان باندي حمله کړې وای. مګر دوی خو لږترلږه اعتراض قدر هم ونه کړ.

دوې ورځې مخکي طالبانو په کابل کي د هلکانو پر مخ ځکه د مکتب دروازې وتړلي چي هغوی بګړی نه وې تړلي.

ډاکټر صاحب محترم. د دغه ناوړه رژیم په دفاع کي درېدل ستاسي سره نه ښايي. زه خو يو شاعر سړی یم. نه په خپله خبره پوهېږم او نه مي څه زده دي. خو تاسي د يوه لوی عالم په حيث باید د داسي رژیم تر څنګ ونه درېږی. تاسي ښايي وواياست چي د هغوی تر څنګ نه ياست درېدلي خو له هغوی څخه د يوه ملي دريځ د غوره کولو او د دغه راز يوه ناوړه رژیم د بين المللی حيثيت د پيدا کولو خواست له يوه عالم سره نه ښايي. د طالبانو رژیم د افغانستان د تاريخ تاريکترين نظام دی. که څه هم چي نظام خو هم ورته ويل کېدلای نه سي. دا خبره ځکه کوم چي دهغوی پر خپلو تږولو بديو برسېره، د هغوی غايب مشر ملا هبت الله دري ورځې مخکي اعلان وکړ چي د هغه امر بايد د خدای او رسول د امر په څېر رعايت سي. کله چي يو څوک خپل امر د خدای امر وبولي نو په هغه هيواد کي به قانون چيري وي؟ زه ګومان کوم چي که دا د محتسب مقام او افتخار ځان ته غوره کړی ښه به وي او ستاسي سره ښايي هم.



[په افغان جرمن آنلاين پورتال کی د جهانی صاحب آرشيف](#)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ